Utlendingsdirektoratet
Norwegian Directorate
of Immigration

# د عاید او شتمني اړوند شخصی اظهارات

نوم

تخلص

د کیس شمیره DUF-nr

تاسو د مالی مرستي اړوند قوانین او د ټولو مرستو ضمیمه شوي اسناد په لاندي ځي کښي منوندلای شی
«د دولتي کمپ اوسیدونکو لپاره د مالي مرستو مقررات»
( د پیسو قوانین)

د بهرنیانو لوي ریاست (UDI ) تاسو سره هغه وخت مالي مرسته کوي چي تاسو د ورځنیو اړتیاو لپاره پیسي ونلری . که تاسو عاید او یا شتمني لری نو دا په دي معنا چي تاسو پوره یا هم تر یو حده د ورځنیو اړتیاو پیسي لری. نو په دي حال کښي مالي مرستي نه درکول کیږي ، او یا هم ستاسو د عاید او شتمنی د اندازی له مخي کمیږي. د عاید یو ټاکلي اندازي په صورت کښي به له تاسو د کور کرایي د تادیي غوښتنه هم وشي.

## که عاید یا شتمني لری نو خبر ورکړی

د عاید یا شتمني په لرلو سره باید تاسو کمپ ته خبر ورکړی ترڅو تاسو ته مناسبه مالي مرسته وشوکړای. دا کار تاسو د د شخصي اظهاراتو دي فورمي په لاسلیک کولو ترسره کولای شی. دا معلومات به صرف ستاسو د مالی مرستي د محاسبي لپاره پکار یوړل شي.

## اسناد مو وړاندي کړی

تاسو باید د غوښتني په صورت کښي هغه اسناد ، چي وښیي تاسو تر اوسه د مالي مرستي د ترلاسه کولو شرایط پوره کولای شی ، کمپ ته وړاندي کړی. که تاسو د بهرنیانو لوي ریاست (UDI ) د غوښتني اړوند اسناد وړاندي نه کړی، نو ستاسو مالي مرسته به ودرول شي.

تاسو باید لاندې اسناد وړاندې کړئ کۆپییەکی پسوڵەی موچەکەت، ئەمە ئەگەر موچەت هەیە.

- د ورستي معاش د رسید کاپي ، که تاسو د معاش عاید لرونکي یاست
- د کاري قرارداد کاپي ، که تاسو د معاش عاید لرونکي یاست
- د وروستی میاشتې بانکي حساب د بیلانس ورقه ، که تاسو په بانک کښې حساب لرئ.
- د مالیاتي چاړواکو نه د تیر کال مالیاتي تصفیې سند
- په 12 ورستیو میاشتو کښې د NAV د اداري نه د ټولنیز مصونیت د ترلاسه شوو مالی مرستو لنډیز

## شخصي اظهارات

☐ زه د شخصی اظهاراتو په مفهوم او معنا پوه ، او تر خپل وسه مې صحیح معلومات ورکړل

☐ ما د خپل ، مصرف وړ، عاید او شتمني اړوند معلومات کمپ ته ورکړي. که په دې موده کښې چې زه په کمپ یم او کوم عاید یا شتمني ترلاسه کړم نو مکلف یم چې په هکله یې کمپ خبر کړم، او هم اړوند اسناد یې په هکله وړاندې کړم. په همدې توګه په عاید یا شتمني کښې د بدلون په هکله به هم ورته کار کوم.

☐ زه په دې پوه یم چې که چیرې د عاید او یا هم شتمني اړوند عمداً غلط معلومات ورکړم او یا هم په دې هکله د معلوماتو د ورکولو ډډه وکړم نو کیدای شي پولیسو ته مې راپور ورکړل شي

☐ زه پوهیږم چې که چیرې د عاید او یا هم شتمني اړوند عمداً غلط معلومات ورکړم او یا هم په دې هکله د معلوماتو د ورکولو ډډه وکړم نو کیدای شي مالی مرستې مې کمې او یا هم ودریږي.

نیټه

ستاسو لاسلیک چې پناه غواړئ

د کمپ د کارکونکي لاسلیک